د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د جمهور رئيس د ویاند دفتر
دولت جمهوری اسلامی افغانستان
دفتر سخنگوی رئیس جمهور
president.gov.af

مطبوعاتي اعلاميه

۱۳۹۴ل کال د کب ۵

ارګ: کابل: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت د سولې د مستقیمو خبرو نېټه چې په وروستۍ څلور اړخیزه غونډه کې یې پرې موافقه کړې، د طالبانو او ټولو هغو ډلولپاره چې لا هم تاوتریخوالي ته ادامه ورکوي یو مناسب فرصت ګڼي او یو ځل بیا له هغوی څخه غواړي چې د سولې پروسې سره یو ځای شي، له جنګ او تاوتریخوالي پرته عادي ژوند اختیار کړي، ځکه جنګ او تاوتریخوالی له تباهي، ورانې او د خلکو له وژنې او ځوروللو پرته بل څه نه لري.

د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت پالیسي سوله ییزه وه او له تېرې یوې لسیزې څخه زیاته موده کې یې د طالبانو له ډلو او ټولو وسله والو مخالفینو څخه غوښتي دي چې سوله ییز ژوند ته ور وګرځي او د هېواد په بیارغاونه کې ونډه واخلي.

د افغانستان دولت یو ځل بیا له طالبانو او ټولو وسله والو افغان ډلو څخه غواړي چې جنګ او تاوتریخوالی پرېږدي، د بې ګناه خلکو وژنه ودروي، د هېواد له ورانې څخه لاس واخلي او د سولې له مستقیمو خبرو سره چې په پام کې ده د روان کال د کب په منځ کې ترسره شي، یو ځای شي.

د افغانستان دولت په دې باور دی چې د جنګ دوام د افغانستان د ځورېدلو خلکو د ژوند او سوکالۍ له زیانمنولو پرته بله پایله نه لري او دا د هېواد د وروسته پاتې والي لامل او د هېواد د اقتصادي او ټولنیزې ودې پر وړاندې خنډ بولي او له دې امله هیله لري چې د طالبانو د بېلابېلو ډلو رهبري او ټول جنګي ګروپونه د سولې د خبرو لپاره له نوې رامنځته شوې فضا ګټه واخلي او سوله ییز ژوند غوره کړي.

د افغانستان دولت او خلک د سولې خبرو لپاره د خپلې بلنې د تجدید په ترڅ کې ټینګار کوي چې د تاوتریخوالي بشپړکمولو پورې به له لاسته راوړنو او د خپلو خلکو له امنیت څخه به په قاطعیت د هغوی په مقابل کې چې جنګ ته دوام ورکوي، دفاع وکړي.

+93 20 214 1135
+93 74 777 7000
president.gov.af
news@arg.gov.af

د افغانستان دولت له نړیوالو شریکانو په ځانګړي ډول د امریکا متحده ایالاتو او د چین ولسي جمهوریت څخه په افغانستان او سیمه کې د سولې د تامین په موخه د افغانستان او پاکستان د دولتونو د اقداماتو د ملاتړ د تداوم له امله مننه کوي.

+93 20 214 1135
+93 74 777 7000
president.gov.af
news@arg.gov.af